د۱۳۸۹کال رپوټ

**۱۳۸۹کال لاسته راوړنې**

**دکنترول او پلټنې اداري د۱۳۸۹ کال په اوږدو کې پلټنې او فعا لیتونه تر سره کړي چې په لاندې توګه یې یادونه شوې ده:**

ترپلټنو لاندې مراجعې ۹۳۱ مرجعې مرکزي او سیمه ایزې اداري پکښې شامل دي

پلټل شوې مراجعې ۷۸۱ مراجعې

هغه مراجعی چې پلټل شوې ندي ۱۵۰ مرجعی دامنیتي نامساعدو شرایطو له امله

هغه رپوټونه او دوسیې چې ددولت دحقونو دتحصیل او تحقق په موخه ورسته له شننې او ارزونې ددولت دحقونو دتحصیل ،تحقق او دنیمګړتیاو داصلاح په موخه اړونده ادارو ته ابلاغ شوې (۷۷۱) رپوټونه دي .
د مالیې نه وضع کولو،صکوک ، ،صفایي ، ټکس، دجنس دقیمت تفاوت ، ترانسپورتي کمیشن، ټکس، ، دقیمت توپیر، دځنډ جریمه ، اضافه ورکړې . اضافه خرچې ناسم سنجش ،فاضله مبلغ او دقیدیت وړ اقلام دپلټنو دموندلو له مدرک څخه چې ددولت خزانې ته دتحصیل وړ تثبیت شویدي دي مبلغ (۳۹۶۳)ملیونه افغانۍ او ۱،۶میلون امریکایی ډالر کیږي.
لوی څارنوالي ته لیږل شویو دوسیو تعداد (**۲٦**) دوسیې دي.
په دوسیو کې شامله وجوه مبلغ ( ۳۷،۳٤ ) ملیونه افغانی او ۰،۰۰۳٦میلون ډلر.۵۰۰ټنه دیزل تیل او ۱۰۴۳قطعه علم خبر.

تحصیل شوې او تصفیه شوې وجوه

مبلغ (۳۷۹،۵۵) ملیونه افغانی دپلټنو او داطمینانیوله اصولو څخه له مراجعو څخه ددولت خزانې ته لیږل شوي دي .
مبلغ (۳٦٤٦) ملیون افغاني د ادارو دکړنوپه صورت کې چې موږ ته یې له مراجعو څخه ډاډ را کړی تصفیه شوې دي .

په ۱۳۸۹کال کې هم دکارکونکو دوړتیا په لوړوالي کې عملي اقدامات تر سره شوي دي ،څرنګه چې په تعداد دې (٤٦) تنه دانګلیسي ، (١٠٦) تنه دکمپیوټر(۲۱۱) تنه دپلټنې په کورسونو کې ګډون کړی ده او(١۵) تنو داداری اصلاحاتو په کورسونو کې همدارنګه (۲۸) دهیواد څخه بهر زده کړې تر لاسه کړي دي .

همدارنګه دپلټنو دپایلو توحیدي رپوټونه ترتیب او پکښې (١٢٨٠) مورده تیروتنې په اداري کړنو کې ځانګړې شوي ، دلري کولواو اصلاح په موخه یې (١٨٨٨) مورده اصلاحي سپارښتنې وزارتونو او ادارو ته وړاندې شوي دي .

سربیره پردې د۱۳۸۸کال ددولت قطعیه حساب پلټل شوی او دعادي او پراختیایي قطعیې په اړه موافق اظهار نظر اود ځانګړو مواردو دتصفیې او اصلاح باندې ټينګار شوی.